فارو ۲۰۱۳/۰۱/۰۷

په اروپا کی دمیشته افغانانو د تولنو فدراسیون

**فدراسیون سازمانهای پناهندگان افغان در اروپا**

**Federation of Afghan Refugee Organizations in Europe**

# اعلامیه

## پاکستان بیاهم افغان مهاجرین او افغان تجاران ځوروی

د روهی ویبپانی د جنوری د شپږمی نیتی د ریپورت په اساس د پاکستان پولیس د پیښور له مختلفو سیمو څخه ۱۳۰۰ تنه افغانان يې په پیښور کې د بورډ بازار، تاج اباد، ارباب روډ او کارخانو چک پوستونو کې نیولي دي. په نیولي شوي افغانانو کې قانوني افغانان هم شامل دي چه پولیس يي د پیسو لپاره نیولي دي. ګن شمیرافغانان ویلې دي چه پولیس نیول شوی کسان سخت آزاروی. د مثال په ډول د ژمي په شپه کې ور باندې اوبه اچوې او هم ورته ایرکنډیشن یا کولر لګوي. په کمپونو او جامع جوماتانو کی د حکومت لخوا اعلانانونه شویدی چی خلک دی ښار ته له تګ را تګ څخه ډډه وکړي. کمپ ته د داخلیدو پرمهال، پاکستاني پولیس خلک ځوروي او ورڅخه پیسی اخلي خو په پیښورکی افغان قونسلګری او د افغان مهاجرینو ریاست د افغانانو په نیولو باندی خاموشي غوره کړي دي. د مهاجرینو د چاروورازرت او خارجه وزارت یواځی دا غږ کوی چې د افغان کډوالو د ستونزو دحل لپاره لاري لټوی. خو عمل ښودلی ده چه د دوی دا لټونه یواځی په خبره ده. دا پداسی حال کی چه د پاکستان د حکومت د ټول اوسني فشارونوپلمه د نامعلومو کسانو لخوا د څوپاکستانیانو درول او له هفوی نه د دوی د اسناد واخیستل ده.

د بلی خوا څخه خانجان الکوزی د افغانستان د تجارت د خونی معاون وویل چه د اولس ورځی نه راپدی خوا د افغانستان د تاجرانو دری زره کانتینرونه تجارتی مال د تورخم نه د تیریدو اجازه نلری. پدی کانتینرونه کی خورا کی مواد هم شته دي. امکان لری چه دا خوراکی مواد فاسدشي.

هر وار چه پاکستان د افغان دولت سره سیاسی شخړه پیدا کوی، پر افغان مهاجرین فشار زیاتوی او پر افغان تاجرانو سرحد بندوی. دا ده د پاکستان د پنجابی حاکمانو اسلامی ورورګلوی او اسلامی ګاوندیتوب.

فارو د پاکستان ټول بشری ضد او افغان دښمن سیاستونه چه موخه یی د افغان ملت د تیرو دری نیمه لسیزو د کړاونو ادامه ده، په کلکه غندی. هغه ورخ لیری نده چه افغان ملت خپل سرنوشت پخپل لاس ونیسی او د پنجابی جنرالانو لاس د خپل سپیڅلی خاوری نه د تل دپاره قطع کړی.

"دفارودبشری حقوقوکمیته"


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ